د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

علمي معينيت

کیفیت تضمین او اعتبارورکولو رياست

# پوهنتونونو او علمي برنامو ته د اعتبارورکولو، بورډ او بیاکتونکو د چارو د تنظیم لارښود

1404

فهرست


سریزه ............................................ ٤

لومړی برخه ............................................ ٤

١.١. د لارښود د ترتیب منظور ............................................ ٤

١.٢. موخې ............................................ ٤

١/٣. اصطلاحات ............................................ ٤

١/۴. د نوم لنډیز: ............................................ ٥

١/٥ تطبیق ساحه: ............................................ ٦

دویمه برخه ............................................ ٦

بورډ ............................................ ٦

٢/١. د بورډ رامنځته کول. ............................................ ٦

٢/٢. د بورډ جوړښت ............................................ ٦

٢/٣. د غړیتوب شرایط ............................................ ٦

٢/۴. د گټو تراو ............................................ ٧

٢/٥. د غړو د مهارتونو لوړول. ............................................ ٧

٢/۶. د بورد دندې او مسؤلیتونه ............................................ ٧

٢/٧. دبورډ د رئیس دندې او مسؤلیتونه ............................................ ٨

٢/٨. د بورډ د معاون دندې او مسؤلیتونه. ............................................ ٨

٢/٩. د بورډ د منشي دندې او مسؤلیتونه: ............................................ ٨

٢/١٠. غونډې ............................................ ٩

٢/١١. د غړو کلنۍ ارزونه: ............................................ ٩

٢/١٢. د بورډ څخه د گوښه کېدو حالت: ............................................ ٩

درېیمه برخه ............................................ ٩

بیاکتونکي ............................................ ٩

٣/١. د غړیتوب شرایط ............................................ ٩

۳/۲. د نوبو غړو د مهارتونو لوړول: ........ ۱۰

۳/۳. د بیاکتونکو غړو وظیفوي مسئولیتونه........ ۱۰

۳/۴. د بیاکتونکو د گوښه کېدو حالات: ........ ۱۰

۳/۵. د گتو تړاو: ........ ۱۱

څلورمه برخه ........ ۱۱

پوهنتون او برنامې ته اعتبار ورکول ........ ۱۱

۴/۱. د پوهنتون او علمي برنامې د اعتبار اهمیت: ........ ۱۱

۴/۲. پوهنتون او علمي برنامې ته د اعتبار ورکولو نمرې: ........ ۱۱

۴/۳. د پوهنتون او علمي برنامې نهایي لیدنه: ........ ۱۲

۴.۴. د نهایي لیدنې پلاوی: ........ ۱۳

۴/۵. د نهایي لیدنې موده: ........ ۱۳

۴/۶. د پوهنتون یا علمي برنامې د راپور له سره کتنه: ........ ۱۳

پینځمه برخه ........ ۱٤

پوهنتون یا علمي برنامې ته د اعتبار ورکولو سند ........ ۱٤

۵/۱. د لومړۍ مرحلې د اعتبار سند: ........ ۱٤

۵/۲. د دویمې مرحلې د اعتبار سند: ........ ۱٤

۵/۳. د درېیمې مرحلې د اعتبار سند: ........ ۱۵

۵/۴. هغه پوهنتونونه چې د اعتبار اخیستلو مرحلو ته شامل شوي نه وي: ........ ۱۵



Directorate of Quality Assurance and Accreditation
MINISTRY OF HIGHER EDUCATION

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سریزه

الحمدلله رب العالمین و الصلاة و السلام علی سید المرسلین محمد و علی آله و اصحابه اجمعین.

د لوړو زده کړو کیفیت لوړول د هر مملکت د تحصیلي نظام اساسي هدف بلل کیږي، چې د یاد هدف د تر لاسه کولو لپاره د لوړو زده کړو وزارت پوهنتونونو او علمي برنامو ته د اعتبار ورکولو د معیارونو ځانګړي چوکاټونه رامنځته کړي، تر څو د پوهنتونونو او علمي برنامو د علمي، اداري، تخنیکي او محصلانو برخې وارزوي او داډ ترلاسه کړي چې پوهنتونونه او علمي برنامې د ټاکلو معیارونو او کیفي اصولو سره سم فعالیت کوي. د کیفیت تضمین او اعتبار ورکولو ریاست هڅه کوي چې د اعتبار ورکولو داخلي سیستمونه پیاوړي او معیاري کړي، دا لارښود د اعتبار ورکولو د مؤثر فعالیت لپاره یوه روښانه او معیاري نقشه وړاندې کوي، موخه یې دا ده چې د اعتبار ورکولو بهیر شفاف او عادلانه د داخلي او نړیوالو معیارونو مطابق ترسره شي، ترڅو په پوهنتونونو او علمي برنامو باور لا زیاد شي.

## لومړۍ برخه
## عمومي معلومات

**۱.۱. د لارښود د ترتیب منظور:**

دغه لارښود د پوهنتونونو او علمي برنامو ته د اعتبار ورکولو او د کیفیت تضمین او اعتبار ورکولو ریاست د بورد او مسلکي بیاکتونکو د فعالیتونو د تنظیم لپاره ترتیب او طی مراحل شوی، تر څو داډ ترلاسه شي چې په پوهنتونونو او علمي برنامو کې د کیفیت تضمین او اعتبار ورکولو منل شوي معیارونه په سمه توګه پلي شوي دي.

**۱.۲. موخې:**

دا لارښود لاندې موخو ته د رسېدو لپاره ترتیب شوی:

۱،۲،۱.پوهنتونونو او علمي برنامو ته د اعتبار ورکولو لپاره د نهایي لیدنې په پروسه کې روڼوالی او اسانتیا را منځته کول؛

۱،۲،۲. پوهنتونونو او علمي برنامو مسولینو ته د کیفیت ساتلو او فعالیتونو د لاښه والي لپاره مشورې ورکول؛

۱،۲،۳. د کیفیت تضمین د بورډ او مسلکي بیاکتونکو پېژندنه او په منظم ډول یې د ټاکنې طی مراحل؛

۱،۲،۴. د بورډ او مسلکي بیاکتونکو په چارو کې شفافیت او نظم رامنځته کول.

۱،۲،۵. د پوهنتونونو او علمي برنامو د اعتبار ورکولو پروسو د چارو تنظیم.

۱،۲،۶. د بورډ او بیاکتونکو د ټاکنو او فعالیتونو تنظیم.

**۱،۳. اصطلاحات:**

**په دې لارښود کې اصطلاحګانې لاندې معناوې افاده کوي:**

وزارت تحصیلات عالی
ریاست تضمین کیفیت و اعتباردهی
Directorate of Quality assurance and Accreditation
MINISTRY OF HIGHER EDUCATION

۱،۳،۱. اعتبار ورکول: د نهایي لیدنې پایله ده، چې پوهنتون او علمي برنامې ته د ټاکل شویو معیارونو د تطبیق کچه معلوموي او په پایله کې د اعتبار سند ورکوي.

۱،۳،۲. د اعتبار سند: هغه رسمي سند دی چې پوهنتونونو ته په مرحله وار شکل د ټاکل شویو معیارونو د تطبیق په نتیجه کې ورکول کیږي.

۱،۳،۳. د اعتبار ورکولو د معیارونو چوکاټ: د اصلي او فرعي معیارونو مجموعه ده، چې پر اساس یې پوهنتونونه او علمي برنامې ارزول کیږي.

۱،۳،۴. د پوهنتون نهایي لیدنه: د هغه وروستۍ ارزونه یا کتنه ده، چې د پوهنتون د مرحله وار اعتبار د پریکړې لپاره تر سره کیږي.

۱،۳،۵. د علمي برنامو نهایي لیدنه: هغه وروستۍ ارزونه یا کتنه ده، چې یوه برنامه د بشپړ علمي اعتبار د پریکړې لپاره تر سره کیږي.

۱،۳،۶. مسلکي بیاکتونکي: هغه تجربه لرونکې پلاوی دی، چې د نهایي لیدنې مسؤلیت پر غاړه لري او پوهنتونونو او علمي برنامو مسؤلینو ته د معیارونو د لا ښه تطبیق لپاره مشورې او وړاندیزونه ورکوي.

۱،۳،۷. مسلکي بیاکتنه: له هغې پروسې څخه عبارت ده، چې په پوهنتونونو او علمي برنامو کې د ټاکل شویو معیارونو له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره د مسلکي بیاکتونکو لخوا ترسره کیږي.

۱،۳،۸. د بیاکتونکي پلاوي راپور: یو لیکلی راپور دی چې د ترسره شویو فعالیتونو پراساس، د بیاکتونکو له خوا د ټاکل شوي نمونې سره سم چمتو د وروستیو کړنو په موخه د کیفیت تضمین او اعتبار ورکولو ریاست ته سپارل کیږي.

۱،۳،۹. پوهنتون: (امارتي او خصوصي) پوهنتونونه پکې شامل دي.

۱،۳،۱۰. د اعتبار سند ځنډول(تعلیق): هغه پروسه ده، چې د پوهنتون اعتبار سند د ځانګړو شرایطو له مخې ځنډول کیږي.

۱،۳،۱۱. د کیفیت تضمین او اعتبار ورکولو بورډ: د پوهنتونونو د علمي کادر غړو او د کیفیت تضمین او اعتبار ورکولو ریاست له مسلکي غړو څخه جوړ شوی دی.

۱،۳،۱۲. علمي برنامه: هغه علمي واحد دی چې په بشپړولو سره یې یو مشخص سند ورکول کیږي.

۱،۳،۱۳. ځان ارزونه : د کیفیت تضمین او اعتبار ورکولو د معیارونو د تطبیق د مستندسازۍ لومړنی پړاو دی، چې راپور یې د پوهنتون له خوا ترتیبیږي او د کیفیت تضمین او اعتبار ورکولو ریاست ته استول کیږي.

**۱،۴. د نوم لنډیز:**

۱،۴،۱. د کیفیت تضمین او اعتبار ورکولو ریاست، وروسته په دې لارښود کې د "ریاست" په نوم یادیږي.

۱،۴،۲. دکیفیت تضمین او اعتبار ورکولو بورډ، وروسته په دې لارښود کې د "بورډ" په نوم یادیږي.

۱،۴،۳. امارتي او خصوصي پوهنتونونه وروسته په دې لارښود کې د "پوهنتون" په نوم یادیږي.

۱,۴,۴. مسلکي بیاکتونکي، وروسته په دې لارښود کې د "بیاکتونکي" په نوم یادېږي.

**۱,۵ تطبیق ساحه:**

.دا لارښود په ټولو پوهنتونونو او علمي برنامو کې د تطبیق وړ دی

**دویمه برخه**

**بورډ**

**۲,۱. د بورډ رامنځته کول.**

جامعاتو، پوهنتونونو او علمي برنامو ته د اعتبار ورکولو اړوندو چارو د لا ښه همغږۍ په موخه بورد فعالیت کوي، د غړو تعداد یې (۱۷) تنه دی چې له جملې یې (۱۲) تنه د جامعاتو او پوهنتونونو علمي کادر غړي او پینځه تنه یې د ریاست د رئیس په ګډون د ریاست کارکوونکي دي. د بورډ جوړښت، د غړیتوب شرایط، دندې او مسؤلیتونه د دې لارښود له مخې په لاندې ډول تنظیم او عملي کېږي.

**۲,۲. د بورډ جوړښت:**

بورډ لاندې جوړښت لري:

۲,۲,۱. رئیس

۲,۲,۲ .مرستیال

۲,۲,۳ .منشي

۲,۲,۴. غړي

د بورډ مشري د ریاست د رئیس پر غاړه وي او د مشورې پراساس د بورډ د غړو له منځه مرستیال او منشي ټاکل کېږي؛

**۲,۳. د غړیتوب شر ایط:**

۲,۳,۱. د بورډ غړي د ریاست له لوري د مکتوب پر اساس له جامعاتو او پوهنتونونو څخه رسماً غوښتل او د هغو له لوري په رسمي ډول را معرفي کول؛

۲,۳,۲. جامعاتو او پوهنتونونو څخه را معرفي شوي علمي کادر غړي لږ تر لږه ماسترۍ تحصیلي سند او د پوهنمل علمي رتبه لرل.(دکتور ته لومړیتوب ورکول)؛

۲,۳,۳. په علمي چارو (څېړنیزو او تدریسي) برخو کې لږ تر لږه شپږ کلنې کاري تجربه لرل؛

۲,۳,۴. د افغانستان په رسمي ژبوحاکمیت او له یوې نړیوالې ژبې سره بلدتیا درلودل؛

۲,۳,۵. د نویو معرفي شویو علمي کادر غړو له ورتیا او ژمنتیا څخه د ریاست له لوري ډاډ تر لاسه کولو په موخه مرکه تر سره کول، او د بریالیتوب په صورت کې د ژمنتیا فورمه ډکه ول .

۲,۳,۶. د وزارت مقام څخه د بورډ د غړيتوب په موخه منظوري اخيستل.

۲,۳,۷. د رياست کارکوونکي د رئيس په انتخاب د يوې دورې لپاره معرفي کول.

۲,۳,۸. د رياست هغه کارکوونکي چې بورډ ته معرفي کيږي، لږ تر لږه دوه کالنه اداري تجربه لرل؛

**۲,۴. د کتو تړاو:**

که چېرې د بورډ کوم غړی له جامعې، پوهنتون او علمي برنامې سره د کتو تړاو ولري، لازمه ده چې اړونده فورمه ډکه او رياست ته يې وسپاري.

۲,۴,۱. هغه جامعات، پوهنتون او علمي برنامه چې د بورډ د غړو له لوري ارزول کيږي، که د بورډ غړي له هغو سره د کتو تړاو ولري په رسمي ډول دې رياست ته خبر ورکړي.

۲,۴,۲. د بورډ هغه غړی چې ارزونې لاندې جامعات، پوهنتون او علمي برنامې پورې تړاو لري، د پروسې د پر مخ وړلو لپاره نه ټاکل کيږي؛

۲,۴,۳. د بورډ هغه غړی چې د ارزونې لاندې جامعې، پوهنتون او برنامې پورې د کتو تړاو ولري او رياست په جريان کې نه کړي، د نهايي ليدنې ارزونه يې لغوه کيږي.

**۲,۵. د غړو د مهارتونو لوړول:**

۲,۵,۱. د رياست له لوري د بورډ غړو ته د مهارتونو لوړولو په موخه روزنيزو ورکشاپونو دايرول.

**۲,۶. د بورډ دندې او مسؤليتونه:**

د بورډ غړي لاندې دندې او مسؤليتونه لري.

۲,۶,۱. د جامعاتو، پوهنتونونو او علمي برنامو لپاره د منل شويو معيارونو په رعايت سره د مشورتي ليدنې، له چمتوالي څخه ليدنې او اعتبار ساتنې د پروسو چارې تنظيمول او ارزونه کې يې ګډون کول.

۲,۶,۲. د جامعاتو، پوهنتونونو او علمي برنامو د مشورتي ليدنې، له چمتوالي څخه ليدنې، نهايي ليدنې او اعتبار ساتنې راپورونه ارزول او په اړه يې تصميم نيول.

۲,۶,۳. د جامعاتو، پوهنتونونو او برنامو د ځان ارزونې راپورونو بياکتنه تر سره کول.

۲,۶,۴. د اعتبار ورکولو د معيارونو، لارښودونو، پاليسيو، او ارزونې کړنلارو مسودو جوړول او تائيدول.

۲,۶,۵. د روزنيزو برنامو ترتيب، تنظيم او ارايه کول.

۲,۶,۶. د وزارت له نورو داخلي کمیتو/کمیسیونونو سره همکاري کول.

۲,۶,۷. د نړیوالو اعتبار ورکونکو علمي ادارو سره د تجربو شریکولو او تر لاسه کولو په موخه د اصولو په نظر کې نیولو سره اړیکو ټینګول.

۲,۶,۸. د اړتیا په صورت کې د نهایي لیدنې پروسه کې ګډون کول.

**۲,۷. دبورډ د رئیس دندې او مسؤلیتونه:**

۲,۷,۱. د بورډ ته د علمي کادر غړو د ټاکلو په موخه مرکه تر سره کول.

۲,۷,۲. د وزارت د مقام څخه د بورډ د نویو غړو د منظورۍ اخیستل.

۲,۷,۳ د بورډ چارې رهبري کول.

۲,۷,۴. د بورډ د پریکړو له تطبیق څخه ډاډ تر لاسه کول.

**۲,۸. د بورډ د معاون دندې او مسؤلیتونه:**

۲,۸,۱. د بورډ د رئیس په نشتون کې د بورډ د چارو رهبري کول.

**۲,۹. د بورډ د منشي دندې او مسؤلیتونه:**

۲,۹,۱. د بورډ د غونډو سمبالول.

۲,۹,۲. د غونډو لپاره د اجندا ترتیبول.

۲,۹,۳. د بورډ په غونډو کې فعال ګډون کول.

۲,۹,۴. د رئیس له لوري د اجندا د تائیدي ترلاسه کول.

۲,۹,۵. په غونډو کې د بورډ د غړو ترمنځ همغږي رامنځته کول.

۲,۹,۶. په پروتوکول کتاب کې د بورډ د غونډو لیکل.

۲,۹,۷. د رئیس له تائیدي وروسته، اړوندو مراجعو ته د بورډ د پریکړو لیږل.

۲,۹,۸. په پریکړو کې د بورډ د غړو لاسلیکونه ترلاسه کول.

۲،۱۰. غونډې:

۲،۱۰،۱. عادي غونډې د اړتیا په صورت کې په اونۍ کې یو ځل او ځانګړې غونډې د رئیس یا د بورډ د درېیمې برخې غړو په غوښتنه ترسره کول.

۲،۱۰،۲. د غونډې د جوړېدو لپاره د بورډ له درېیو څخهد دوو برخو کېدون اړین دی.

۲،۱۱. د غړو کلنۍ ارزونه:

۲،۱۱،۱. د رئیس له لوري هر کال د بورډ د غړو فعالیتونه د یوې ځانګړې فورمې پر اساس ارزول.

۲،۱۲. د بورډ څخه د ګوښه کېدو حالت:

د بورد غړي د لاندې مواردو په صورت کې، خپل غړیتوب له لاسه ورکوي:

۲،۱۲،۱. د پرېکړو په کولو کې بې‌طرفي نه مراعتول.
۲،۱۲،۲. د لوړو زده‌کړو وزارت او د نظام د اصولو او پالیسیو نه مراعتول.

۲،۱۲،۳.له موجه عذر څخه پرته په پرله پسې څلورو یا زیاتو غونډو کې کېدون نه کول.

۲،۱۲،۴. د ریاست د لارښودونو، اصولو، اسنادو او کړنلارو څخه سرغړونه کول.

۲،۱۲،۵. په کلنۍ ارزونه کې ټاکل شوې سلنه نه تر لاسه کول.
۲،۱۲،۶. د بورډ د غونډو د محرمیت نه مراعتول.

۲،۱۲،۷. د بورډ د غړي له خوا د استعفا لیک وړاندې کول.

درېیمه برخه

بیاکتونکي

۳،۱. د غړیتوب شرایط:

د لاندې شرایطو په پام کې نیولو سره د جامعاتو او پوهنتونونو علمي کادر غړي د بیاکتونکي په توګه ټاکل کېږي.

۳،۱،۱. د ریاست له لوري له جامعاتو او پوهنتونونو څخه بیاکتونکي غړي رسماً غوښتل او د هغو له لوري په رسمي ډول را معرفي کول.

۳،۱،۲. د جامعاتو او پوهنتونونو څخه را معرفي شوي علمي کادر غړي لږ تر لږه د ماسترۍ تحصیلي سند او د پوهنمل علمي رتبه لرل.



۳،۱،۳. په علمي چارو (څېړنيزو او تدريسي) برخو کې لږ تر لږه د درې کلنې کاري تجربې درلودل؛

۳،۱،۴. د افغانستان په رسمي ژبوحاکميت او له يوې نړيوالې ژبې سره بلدتيا درلودل؛

۳،۱،۵. د نويو معرفي شويو علمي کادر غړو له ورتيا او ژمنتيا څخه د رياست له لوري داډ تر لاسه کولو په موخه مرکه تر سره کول او د بريالیتوب په صورت کې د ژمنتيا فورمه ډکول .

۳،۱،۶. د وزارت مقام څخه د بياکتونکي د غړيتوب په موخه منظوري اخيستل.

**۳،۲. د نويو غړو د مهارتونو لوړول:**

۳،۲،۱. د رياست له لوري بياکتونکو غړو ته د مهارتونو لوړولو  په موخه ښوونيز ورکشاپونو دايرول.

**۳،۳. د بياکتونکو غړو وظيفوي مسئوليتونه:**

۳،۳،۱. د جامعاتو، پوهنتونونو او علمي برنامو د نهايي ليدنې په پروسه کې ګډون کول.

۳،۳،۲. د اسنادو او شواهدو پر اساس پريکړه او د تر لاسه شويو پايلو محرميت ساتل.

۳،۳،۳. د جامعاتو، پوهنتونونو او برنامو د ځان ارزونې راپور دقيقه مطالعه کول.

۳،۳،۴. د جامعاتو، پوهنتونونو او علمي برنامو رهبرۍ او مسؤلينو ته د معيارونو په اړه د ښوونيزو برنامو ترتيب، تنظيم او وړاندې کولو کې همکاري کول.

۳،۳،۵. د نړيوالو اعتبار ورکونکو ادارو سره د تجربو شريکولو او تر لاسه کولو په موخه د اړيکو په ټينګولو کې د رياست سره همکاري کول.

۳،۳،۶. د بياکتنې پر مهال له اړوندو مسؤلينو سره مسلکي چلند کول.

۳،۳،۷. د بياکتنې راپور له لاسليک وروسته په ټاکلي وخت کې رياست ته سپارل.

۳،۳،۸. د چمتو شوي راپور د څرنګوالي په اړه د اړتيا په صورت کې د بورډ غړو ته قناعت ورکول.

۳،۳،۹. د اړتيا په صورت کې د مشورتي ليدنې، د چمتوالي څخه ليدنې او اعتبار ساتنې پروسو کې ګډون کول.

**۳،۴. د بياکتونکو د ګوښه کېدو حالات:**

۳،۴،۱. د لوړو زده کړو وزارت او د نظام د اصولو او پاليسيو نه مراعتول.

۳،۴،۲. له دليل پرته له دريو څخه د زياتو بياکتنو په سفرونو کې ګډون نه کول.

Directorate of Quality Assurance and Accreditation
MINISTRY OF HIGHER EDUCATION

۳,۴,۳. د رياست د لارښودونو، اصولو، اسنادو او کړنلارو څخه سرغړونه کول.

۳,۴,۴. د جامعاتو، پوهنتونونو او علمي برنامو د ارزونې په پروسه کې، د شخصي ګټو لرلو په صورت کې رياست ته خبر نه ورکول.

۳,۴,۵. د بياکتونکي د غړي له خوا د استعفا ليک وړاندې کول.

**۳,۵. د ګټو ټکر:**

که چېرې د بياکتونکو کوم غړی له جامعې، پوهنتون او علمي برنامې سره د ګټو ټکر ولري، لازمه ده چې اړونده فورمه ډکه او رياست ته يې وسپاري.

۳,۵,۱. د بياکتونکو هغه‌غړی چې د جامعې، پوهنتون او علمي برنامې سره د ګټو ټکر لري، د پروسې د پر مخ وړلو لپاره نه ټاکل کېږي.

۳,۵,۲. د بياکتونکو هغه غړی چې د ارزونې لاندې جامعې، پوهنتون او برنامې پورې د ګټو ټکر ولري او رياست په جريان کې نه کړي، د نهايي ليدنې ارزونه يې لغوه کېږي.

**څلورمه برخه**

**پوهنتون او برنامې ته اعتبارورکول**

**۴,۱. د پوهنتون او علمي برنامې د اعتبار اهميت:**

پوهنتون او علمي برنامې ته اعتبار د معيارونو په تطبيق سره لاندې اهميت لري.

۴,۱,۱. د لوړو زده کړو معياري کول، ترڅو د خلکو باور په داخلي، سيمه‌ييزه او نړيواله کچه ترلاسه کړي؛

۴,۱,۲. د دې ډاډ ترلاسه کول چې پوهنتونونه او برنامې د ګټه اخېستونکو؛ په ځانګړي ډول محصلينو، د هغوی والدينو او ګمارونکو تمې په ښه ډول پوره کړي.

**۴,۲. پوهنتون او علمي برنامې ته د اعتبارورکولو نمرې:**

۴,۲,۱. پوهنتون يا علمي برنامې ته د هرې مرحلې لپاره د برياليتوب ټاکل شوې سلنې په پام کې نيولو سره مرحله وار اعتبار ورکول کېږي.

۴,۲,۲. پوهنتون د ټاکل شويو معيارونو له چوکاټ سره سم، په لومړۍ مرحله کې ۶۵، دويمه مرحله کې ۷۵ او درېيمه مرحله کې ۸۵ او همدارنګه په ذکر شويو مرحلو کې د هر معيار لپاره ټاکل شوې سلنه ترلاسه کړي.

۴,۲,۳. پوهنتون په هغه صورت کې کولای شي د اعتبار اخيستلو درې واړه مرحلې په يو ځل تر لاسه کړي، چې د درې واړو مرحلو لپاره ټاکل شوي شرايط يې پوره کړي وي.

۴,۲,۴ . پوهنتون په هغه صورت کې کولای شي دوهمه مرحله تر لاسه کړي، چې د لومړۍ او دوهمې مرحلې لپاره ټاکل شوي شرايط يې پوره کړي وي.

د لوړو زده کړو وزارت
د کيفيت تضمين او اعتباردهي رياست
Directorate of Quality Assurance and Accreditation
MINISTRY OF HIGHER EDUCATION

۴،۲،۵ . پوهنتون په هغه صورت کې کولای شي دریمه مرحله تر لاسه کړي، چې د لومړۍ، دوهمې او دریمې مرحلې لپاره ټاکل شوي شرایط یې پوره کړي وي.

۴،۲،۶. که پوهنتون د یوې مرحلې لپاره کاندید وي، خو د وړسې مرحلو شرایط پوره نه کړای شي، نو یوازې هماغه مرحله تر لاسه کولای شي.

**۴،۳. د پوهنتون او علمي برنامې نهايي ليدنه:**

**د نهايي ليدنې پروسه**

یوه ارزښتناکه او تحلیلي پروسه ده چې له مخې یې پوهنتون یا علمي برنامه ارزول او په پایله کې د پوهنتون یا علمي برنامې د کیفیت په اړه تصمیم نیول کیږي.

۴،۳،۱. د نهايي ليدنې د تر سره کولو په موخه د وزارت له مقام څخه د منظورۍ اخیستل.

۴،۳،۲. د ریاست له لوري د پوهنتون او علمي برنامې د ځان ارزونې راپور د مخکینۍ مطالعې په موخه د بیاکتونکي پلاوي سره شریکول.

۴،۳،۳. د بیاکتونکی پلاوی له لوري د نهايي ليدنې څخه مخکې ریاست سره په ځانګړې غونډه کې د ځان ارزونې راپور مهم ټکي شریکول.

۴،۳،۴. نهايي ليدنه د بورډ د پریکړې له مخې، د اعتبار ورکولو د معیارونو پر اساس د یوې میاشتې په موده کې ترسره کول.

۴،۳،۵. ریاست د بیاکتونکي پلاوي له استولو څخه مخکې پوهنتون یا علمي برنامې ته خبر ورکول.

۴،۳،۶. بیا کتونکی پلاوی خپل راپور بشپړ او په بورډ کې د تحلیل په موخه ریاست ته سپارل؛

۴،۳،۷. د بورډ غړو له لوري د نهايي ليدنې راپور تحلیل د بورډ له بلې غونډې یوه ورځ مخکې ریاست ته سپارل او په اجنډا کې شاملول.

۴،۳،۸. که د نهايي ليدنې راپور وضاحت ته اړتیا ولري، د اصلاحاتو او معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د بیا کتونکي پلاوي سره شریکول.

۴،۳،۹. د بیاکتونکی پلاوی له لوري د بورډ د تحلیل پر اساس اصلاح شوی راپور د بورډ له راتلونکې غونډې یوه ورځ مخکې ریاست ته سپارل.

۴،۳،۱۰. د لومړۍ، دویمې او دریمې مرحلې د نهايي ليدنې راپور پایله د ریاست له لوري تائید او د دریمې مرحلې پایله د مقام د منظورۍ وروسته اړوند پوهنتون سره په رسمي توګه شریکول.

۴،۳،۱۱. د علمي برنامې د نهايي ليدنې راپور پایله د ریاست له لوري تائید او د مقام د منظورۍ وروسته اړونده علمي برنامې سره په رسمي توګه شریکول.

Directorate of Quality Assurance
MINISTRY OF HIGHER EDUCATION

۴,۳,۱۲. که پوهنتون یا علمي برنامه د نهایي لیدنې په نتیجه کې تاکل شوې نمرې ترلاسه نه کړي، پایله یې د بورډ له تائید وروسته د ریاست له لوري اړونده پوهنتون یا علمي برنامې ته استول کیږي.

۴,۳,۱۳. هغه پوهنتون او علمي برنامه چې د اعتبار ورکولو دریمه مرحله ترلاسه کړي، د ریاست له لوري د بشپړ اعتبار سند ورکول کیږي.

۴,۳,۱۴. که پوهنتون یا علمي برنامه د نهایي لیدنې له پایلو راضي نه وي، کولای شي ریاست ته رسمي اعتراض وکړي.

### ۴,۴. د نهایي لیدنې پلاوی:

۴,۴,۱. د نهایي لیدنې پلاوی د ریاست له لوري تعین او د بورډ له خوا تائیدیږي.

۴,۴,۲. که د بورډ له خوا تائید شوي پلاوي کوم غړی د ټاکل شوې لیدنې لپاره چمتو نه وي، د ریاست له لوري یې پر ځای د بل شخص ټاکل کیږي.

۴,۴,۳. د پلاوي د غړو شمېر لږ تر لږه څلور تنه او اکثر حد یې د پوهنتون، پوهنځیو او څانګو د شمېر له مخې ټاکل کیږي.

۴,۴,۴. د ریاست کارکوونکي د لیدنې پر مهال د لیدونکي پلاوي د غړي په توګه ټاکل کیږي.

### ۴,۵. د نهایي لیدنې موده:

د نهایي لیدنې او راپور لیکلو موده د پوهنتون یا علمي برنامې د جوړښت او کاري حجم له مخې په لاندې ډول ټاکل کېږي.

۴,۵,۱. د پوهنتون د نهایي لیدنې موده لږ تر لږه څلور ورځې او اکثر حد یې د پوهنتون د جوړښت له مخې ټاکل کیږي.

۴,۵,۲. د پوهنتون د نهایي لیدنې د راپور لیکلو موده لږ تر لږه دوه ورځې او اکثر حد یې د کار حجم ته په کتو ټاکل کیږي.

۴,۵,۳. د علمي برنامې د نهایي لیدنې موده حداکثر څلور ورځې ټاکل کیږي.

۴,۵,۴. د علمي برنامې د نهایي لیدنې د راپور لیکلو موده حداکثر درې ورځې ټاکل کیږي.

۴,۵,۵. د نهایي لیدنې راپور له بشپړولو څخه وروسته په ټاکلې موده کې ریاست ته سپارل کیږي.

۴,۵,۶. پوهنتون یا علمي برنامې ته د تګ او راتګ ورځې د ارزونې او راپور لیکلو ته د ټاکل شویو مودو کې نه شمېرل کیږي.

### ۴,۶. د پوهنتون یا علمي برنامې د راپور له سره کتنه:

د پوهنتون یا علمي برنامې مسولین که د نهایي لیدنې له پایلې راضي نه وي، کولی شي د لاندې ټکو په پام کې نیولو سره په رسمي ډول اعتراض وکړي.

Directorate of Quality Assurance and Accreditation
MINISTRY OF HIGHER EDUCATION

۴,۶,۱. د پوهنتون یا علمي برنامې مسئولین چې د نهایي لیدنې له پایلې راضي نه وي، کولای شي په لس کاري ورځو کې په راپور د بیا کتنې غوښتنه وکړي.

۴,۶,۲. د پوهنتون یا علمي برنامې مسئولین هغه موارد چې پرې د بیاکتنې غوښتنه کوي، په رسمي ډول د غوښتنلیک سره یو ځای ریاست ته سپاري.

۴,۶,۳. ریاست د پوهنتون یا علمي برنامې د بیاکتنې غوښتنلیک له ملېانو سره د بورډ په اجندا کې شاملوي.

۴,۶,۴. د بورډ د پرېکړې پر اساس د بیا کتنې کمیته جوړېږي، چې په کې لږ تر لږه د بیاکتونکي پلاوي رئیس، د بورډ دوه غړي، د اړتیا په صورت کې د پلاوي تول غړي او د پوهنتون یا علمي برنامې له لوري دوه استازو کېږون کوي.

۴,۶,۵. په غونډه کې د بیا کتنې کمیټې د غړو شتون لازم دی.

۴,۶,۶. د بیا کتنې کمېټه د پوهنتون یا علمي برنامې د استازو او بیا کتونکو له نظر اخیستلو وروسته، په لیکلې بڼه راپور چمتو او بورډ ته سپاري.

۴,۶,۷. بورډ د بیاکتنې کمیټې راپور په تفصیل سره تحلیلوي او وروستۍ پرېکړه کوي.

۴,۶,۸. هغه راپور چې د بورډ له لوري تائید شي، د رسمي سند په توګه پوهنتون یا علمي برنامې ته استول کېږي.

۴,۶,۹. د بیاکتنې کمیټې د پرېکړو محرمیت ساتل لازم دی.

## پینځمه برخه

## پوهنتون یا علمي برنامې ته د اعتبارورکولو سند

**۵,۱. د لومړۍ مرحلې د اعتبارسند:**

هغه پوهنتون چې د اعتبار اخېستلو لومړۍ مرحله ترلاسه کړي، د ریاست له لوري د یادې مرحلې د اعتبار سند ورکول کېږي.

۵,۱,۱. د لومړۍ مرحلې د اعتبار سند د پوهنتون د پایلو له تائید وروسته د دوه (۲) کلونو لپاره د اعتبار وړ دی؛

۵,۱,۲.هغه پوهنتونونه چې ددې لارښود د منظورېدو مخکې یې د اعتبار ورکولو لومړۍ مرحله ترلاسه کړې وي، ددې لارښود له پلې کېدو وروسته یو نیم کال وخت لري چې دویمه مرحله ترلاسه کړي. که په ټاکلې موده کې دویمه مرحله تر لاسه نه کړي، د اعتبار لومړۍ مرحله یې لغوه ده.

**۵,۲. د دویمې مرحلې د اعتبارسند:**

هغه پوهنتون چې د اعتبار اخېستلو دویمه مرحله ترلاسه کړي، د ریاست له لوري د یادې مرحلې د اعتبار سند ورکول کېږي:

Directorate of Quality assurance and Accreditation
MINISTRY OF HIGHER EDUCATION

۵,۲,۱. د دویمې مرحلې د اعتبار سند د پوهنتون د پایلو له تائید وروسته د درې (۳) کلونو لپاره د اعتبار وړ دی.

۵,۲,۲. هغه پوهنتونونه چې ددې لارښود د منظورېدو مخکې یې د اعتبار ورکولو دویمه مرحله ترلاسه کړې وي، ددې لارښود له پلې کېدو وروسته دوه کاله وخت لري چې درېیمه مرحله ترلاسه کړي. که په ټاکلې موده کې درېیمه مرحله تر لاسه نه کړي، د اعتبار دویمه مرحله یې لغوه ده.

**۵,۳. د درېیمې مرحلې د اعتبار سند:**

هغه پوهنتون چې د اعتبار اخیستلو درېیمه مرحله ترلاسه کړي، د ریاست له لوري د یادې مرحلې د اعتبار سند ورکول کېږي:

۵,۳,۱. پوهنتون ته د درېیمې مرحلې د اعتبار سند، په لومړۍ دوره کې د پایلو له تائید وروسته، د پنځو (۵) کلونو لپاره د اعتبار وړ دی.

۵,۳,۲. پوهنتون ته د درېیمې مرحلې د اعتبار سند، په دویمه دوره کې د پایلو له تائید وروسته، د اوو (۷) کلونو لپاره د اعتبار وړ دی.

**۵,۴. هغه پوهنتونونه چې د اعتبار اخیستلو مرحلو ته شامل شوي نه وي:**

۵,۴,۱. هغه پوهنتونونه چې د اعتبار ورکولو مرحلې ته کاندید شوی نه وي، ددې لارښود له منظورېدو وروسته یو کال مهلت لري، چې د اعتبار ورکولو مرحلې ته شامل شي.

۵,۴,۲. هغه امارتي پوهنتونونه چې په ټاکلې موده کې د اعتبار ورکولو مرحلې ته شامل نه شي، د رهبرۍ په اړه یې د وزارت مقام له لوري تصمیم نیول کېږي.

۵,۴,۳.هغه خصوصي پوهنتونونه چې په ټاکلې موده کې د اعتبار ورکولو مرحلې ته شامل نه شي، نوی محصلین نه شي جذبولای.

یاد لارښود په (۵) برخو(۳۱) عناوینو او (۱٤۱) مواردو کې ترتیب شوی دی، چې د منظورۍ د نېټې څخه وروسته د تطبیق وړ دی.

پوهنتونونو او علمي برنامو ته د اعتبار ورکولو، بورډ او بیاکتونکو د چارو د تنظیم لارښود د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو ریاست د بورډ له لوري په (۳۹) گڼه، ۱٤۰۳/۱۰/۲۵ نېټې پرېکړې او د لوړو زده کړو وزارت د علمي معینیت له لوري په (٦) گڼه، ۱٤٤۷/٦/۲۵ نېټې پرېکړې له مخې تایید شوی دی. یاد لارښود په امارتي او خصوصي پوهنتونونو کې د تطبیق وړ دی.